# د ماشوم مسافر خونديتوب

دا ګامونه تعقيب کړئ ترڅو خپل ماشومان په موټر کې خوندي وساتئ.

**د 13 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان بايد د شا په څوکی کې کيني.**



## شا لوري ته د موټر څوکۍ

- د 2 کالو څخه کم عمر ماشومان بايد د موټر شاته مخامخ په سيټ کې کيني
- هيڅکله د موټر شاته مخامخ سيټ د فعال ايربيګ مخې ته مه ږدئ
- د موټر سيټ د موټر څخه بهر د خوب ځای په توګه مه کاروئ




## مخامخ لوري ته د موټر څوکۍ

- د 5 کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومان بايد د موټر شا لوري ته يا مخامخ لوري ته د موټر په سيټ کې د بېلټ سره کيني.
- تل د مخکينی موټر سيټ سره پټه وکاروئ - د نور معلوماتو لپاره خپل د موټر څوکۍ او د موټر لاربښود ولولئ.



## د بوسټر څوکۍ

- هغه ماشومان چې د موټر په څوکی کې نه کيني بايد تر 8 کالو پوري د بوسټر سيټ څخه کار واخلي
- ډير ماشومان د خپل خونديتوب لپاره د 8 کلن کيدو وروسته بوسټر څوکی ته اړتيا لري.



## د سيټ کمربند

- د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان چې د موټر سيټ يا بوسټر څوکۍ نه کاروي بايد د سيټ بيلټ واغوندي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو په موټر کې هرڅوک هر ځل له د کيناستو په وخت د سيټ بيلټ وکاروي.

The University of Vermont Children's Hospital

**د ماشومانو مسافرو د خونديتوب پروګرام**

**802-847-1215 يا 802-847-9988 (د ترجمان خدمات)**

Pashto